# داشترن ثیړنه:

## افغانستان داوباما ویتنام !




دانټرنیټ دفارسی سرچینو څخه
ژباړونکی: عزیزاحمد خوارمل

«په یو داهسی شرایطوکې چې په سپینه مانی کې یوشمیرډیری مهمی غونډی جوړی سوی اورامنځته سوي اودد ی غونډو اصلی موخې داوي چې دافغانستان اوپاکستان هیوادونه دي ددی اوسنی ګړکیچ څخه څرنګه راووځي ؟ ، چې دپخوانی استراتیژیکو پروسی په خلاف نورنو خبراتری اوبحثونه پردی باندی نسته چې ایا نورډیرسرتیری دي ودی هیواد ته ولیږل سي اوکه ونه لیږل سي ، مګرډیربحثونه اوخبراتری پردی باندی هم وي چې نورلازیات سرتیری ودی هیواد ته به ولیږل سي».

په دی اړه یوی اطریشی انټرنیټی خپرونه اشترن دنوموړی مطلب په خپرولوسره په یوه ځیړنه کې «افغانستان ،داوباما ویټنام ؟» ترسرلیک لاندی په لاندی ډول سره ولیکل: وروسته دهغه څخه چې دامریکا جمهور ریس باراک اوباما ، ددی هیواد پوځی بودجه یې په تصویب ورسول ، ددوهم ځل دپاره یې پریکړه وکړ ،دافغانستان په هغو سیمو کښې چې کړکیچ ستره دی پوځی ځواکونه دی په دغوسیمو کښې زیاتوالی پیدا کړی اوشتون دی ولري . دغه پریکړه په داسی وخت کې ونیول سو چې دامریکا جمهور ریس تر اوسه پوری وافغانستان ته دنورو ډېروسرتیرو دلیږلو په هکله لاهم نه دی ډاډمن سوی. ځکه چې ښاغلی جمهور ریس په خپلو مصاحبو اوخبراتروکې په وارو وارو ټینګار کړی دی چې په دی هکله ټول امکانات او ممکنی لاری چاری ترڅیړنی اومطالعی لاندی ونیول سي ، همدارنګه باراک اوباما په اوسنی شرایطوکې وافغانستان ته دسرتیروپه پریکړنده لیږلو باندی زړه نا زړه دی لا تر اوسه پریکړه یې نه ده کړی او مترددده دی ځکه چې دطالبانو اوالقاعده دځان وژنی دیرغلونوشمیره په افغانستان اوپاکستان کې مخ پر زیاتیدو دي او دامریکایی سرتیرو اوسربازانو دمنځه وړلو او دوژل کیدو لوړه کچه په افغانستان کې ، د باراک اوباما دپاره یوه ستره ماته شمیرل کیدی سي.

داشترن انټرنیټی خپرونه په دی هکله زیاتوی: په داسی شرایطوکې چې باراک اوباما دافغانستان اوپاکستان دپاره ددی نوی استراتیژی دپریکړی څخه ترمخه داسی ویلی وو ، ددی استراتیژی دپریکړی څخه دښېړو میاشتو په تیریدوسره ،دافغانستان دهیواد امنیتی وضعه نه داچې ښه نه سو بلکی مخ پروبجاړیدباندی یې پراختیا ومونده. په همدی ډول اوسمهال کابو سل زره (۱۰۰۰۰۰) دناتواوامریکاسرتیری اوسربازان په افغانستان کې شتون لري ، اوپه افغانستان کې دامریکایی اوناټوځواکونوناملتوقوماندان جنرال استنلي میک کریستال ودی هیواد (افغانستان) ته په ګړندی توګه د (۴۴۰۰۰ ) څلورڅلویښتوزرونورونوی ځواکونو دراليږلوغوښتونکی سوی دی. اوداسی لیدل کیږی چې له دی کبله بیره رامنځته سوی دی چې افغانستان به د« اوباما په ویټنام» واوړی ،اودغه مسله دامریکادنوی دولتی جګپوړوچارواکو په منځ کې په ډېر ږغ اوږوغ باندی اوښتی دی .

داشترن انټرنیټی خپرونه ددی مطلب په اړه لیکی : دافغانستان دجګړی دپیل څخه د(۲۰۰۱ زیږدیزکال څخه بیا تردانن نیټی پوری «۸۸۲» اته سوه ښېړاتیا تنه امریکایی سرتیری په افغانستان کې وژل سویدی ) اود ډېروخت په تیریدوسره کیدی سی چې دغه ترسره سوی کړنی لاډېر واکمنتیا اوشونتیا پیدا کړی چې بیا به دامریکا دولت په یونه ختمیدونکی اونه خلاصیدونکی جګړه کې بندپاته سي ،هغه جګړه چې بری یې په هغه هیوادکې چې دهغه کنترول کول ناشونی دی اود سترګودلیدلوڅخه ډېر لیری ښکاری . اوسمهال د امریکایوشمیر لیکوونکی اوورځپاڼه لیکوونکی داسی وایی چې د نورو ډېروسرتیرواوسربازانو لیږل دنویوبنسټپالو (نوی محافظه کارانو ) دموخواوغوښتنو څخه سرچینه اخلی.او امریکایی نوی بنسټپال (نوی محافظه کاران ) په

افغانستان کې دیو داهسې دولت دجوړه ولو سوچ په سرکې لري چې په بل ځای کې دغسې یو بل دولت نه وي را منځته سوی.

داشترن انټرنیټي خپرونه په دی هکله زیاتوی: په افغانستان کې دسپینې ماڼۍ لالهانده کیدل او سر ورکیدل دلیدلو وړ دی. په دی هیواد کې امنیتی پیچلي وضعیت په یو داهسې ډول باندی اوښتی دی چې حتی یو شمیر ددی هیواد سیاسي جګپوړی چارواکی اقرار یې کړیدی چې طالبان دیو پوځۍ او سیاسي ځواک په توګه دمنځه وړلو اودماتیدو نه دی چې هر څومره سرتیری دي په دی هیواد کې ځای پرځای سي په هیڅ ډول باندی توپیر نه رامنځته کیږي . او همدارنګه نوی اخبار چې خپور سویدی په هغه کې د سی آی اي د SIA دسیاه دسازمان مالی (ډالری ) مرستی د حامد کرزی د وروره سره بربنډه اوڅرګنده سوی دی ، چې په افغانستان کې دامریکا دامنیتی استراتیژی پرپیچلتیا باندی دمنلو اودتایید مهر دی ځکه چې داهسې ویل کیږی چې احمد ولی کرزی دحامد کرزی ورور دمخدره توکو دتجارت کوونکو دمشرانو دډلی څخه یو مشرشمیرل کیږی .

اشترن دخپلی څیړنی په وروستنی برخه کې لیکی: باراک اوباما او سمهال په ډیرو سختوشرایطوکې راګیر سویدی ،ځکه چې په دی هیواد «افغانستان» کې بهستپال ورځ په ورځ واکمنتیا پیداکوي ،امریکایی دولتی چارواکي داوباما څخه ددی غوښتونکی دي چې دافغانستان داستراتیژی په اړه وخپل زړه نازړه توب اومترددوالی ته دپای ټکی کښیښیږدی ،اودغه ورځی دهغوسختواومشکلو ورځود جملی څخه دی چې باراک اوباما دواک دلاسته راوړلودلمړی ورځې څخه بیا تر داننه پوری نه وو ورسره مخامخ سوی . نودافغانستان جګړه کیدی سي چې په هغسې سرلیک سره اخته کړي چې دهغه پایله ، دباراک اوباما په هکله به دتاریخ قضاوت تراغیزه لاندی راوړی. /

اخیځلیک: دقطره نیوز څخه.